# ملګري ملتونه

**د امنیت شورا**

۲۵۵ مه پریکړه لیک کال: (۲۰۱۵ )

لاندې پریکړه د امنیت شورا د ۷۵۷۳ مې غونډې په اساس چې ۲۰۱۵ کا ل د ډسمبر په میاشت کې ترسره شوه رامنځ ته شوې ده.

امنیت شورا،

د میرمنو، سولې، او امنیت په برخه کې ۱۳۲۵(۲۰۰۰ )، ۱۸۲۰(۲۰۰۸ )، ۱۸۸۹(۲۰۰۹ )، ۱۹۶۰ (۲۰۱۰)، ۲۱۰۶ (۲۰۱۳)، ۲۱۲۲(۲۰۱۳ ) او ۲۲۴۲ (۲۰۱۵) پریکړو یادول، او د دوی د مشر ټولې څرکندونی، د تروریزم سره د مقابلې په اړه د ۲۱۷۸(۲۰۱۴ ) او ۲۱۹۵ (۲۰۱۴) پریکړو او د دی د مشر ویناوی S/PRST/2015, 11 او د جنګ څخه وروسته او د سولی د راوستلو په اړه ددوې د مشر د څرکندونو او S/PRST/2015, 2 په یاد روارل.

د ملکي وګړو د خوندیتوب په تړاو ۱۲۶۵ (۱۹۹۹) او ۱۸۹۴ (۲۰۰۹) پریکړو په پام کې نیول

د نړیوالې سولې او امنیت د تامین د منشور لاندې، د ملګرو ملتونو د منشور موخې او اصول، او د امنیت شورا اساسي مسولیتونه په پام کې نیول.

په یاد لرل چې په دغه پریکړه کې ځوان داسې تعریفیږي، چې عمرونه یې د ۱۸ څخه تر ۲۹ کلونو پوری وی؛ خو دا هم باید په یاد وساتئ، چې د ځوانانو لپاره، د عمومي اسمبلې د پریکړو A/RES/50/81 او A/RES/56/117 په شمول، شاید په ملي او نړیواله کچه متغیر تعریفونه موجود وي.

ددی پیژندل چې دځوانانو ننی نسل د بل هروخت په نسبت په نړی کې زیات دی او هغه هیوادونه چې وسلوالې شخړی په کې دی د نفوس ډیره برخه یې ځوانان تشکیلوی.

په دې اړه د اندیښنو څرګندول چې د ملکی وګړو ترمنځ ځوانان د مختلفو وسلوالو شخړو په واسطه د پام وړمتاثره دی لکه د مهاجرینو او داخلی بی ځای شوو په شکل ، د ځوانانو نه لاس رسی تعلیم او اقتصادی فرصتونو ته؛ او دا په سولې او جوړجاړې باندې ډیر زیات تاثیرلري.

د سولې او امنیت د پرمختګ او برقرار ساتنی په برخه کې د ځوانانو د مثبتی همکاری پیژندل،

منل چې ځوانان د شخړو د مخنوی اوحل په برخه کې مهمه رول لري، او او د تداوم، مشارکت او د سولې د هڅو په بریالیتوب کې مهم رول لري.

درک کول چې ځوانان باید د پایاداره صلحی په رامنځ ته کول کې فعاله ونډه واخلی، عدالت اوروغی جوړی په برخه کې همکاری وکړی او همدارنګه د ځوانانو زیات نفوس چې د ټول نفوس یوه ځانګړی برخه تشکیلوی کولای شی چې هر اړخیزه پالیسو په موجودیت کې د یوې پایداره سولې او اقتصادي ثبات په رامنځ ته کولو کې همکاري وکړی،

درکول چې د افراطیت پرمختګ د تاوتریخوالی ترسره کولو او سخت دریځی په لوری، په ځانګړي ډول د ځوانانو ترمنځ ثبات او پرمختګ ګواښی، او ډیرکله د صلحی د رامنځ ته کولو کوښښونه له هدفه لري او غټی شخړی رامنځ ته کوی، او د هغه حالتو او عواملو په اهمیت باندی تاکید کول کوم چې دځوانانو تر منځ تاوتریخوالی او افراطیت زیاتوی او بل اخره د تروریزم په رامنځ ته کیدو کې مرسته کوی،

د اندیښنو شریکول ددې په هکله چې په یو نړیواله ټولنه کې د تروریستانو او د هغوی د پلویانو په واسطه د مخابراتو او معلوماتی ټکنالوژی خصوصآ انترنیټ زیات استعمال ددی لپاره چې ځوانان د تروریستي کړنو دترسره کولو لپاره تحریک او وګماری، او خپلې کړنې تمویل، پلان او منظمې کړي او همدا رنګه د غړو دولتونو پام دې ته راوړل چې په یو ځای باید بشر حقوقو، اساسي ازادۍ او د نړیوالو قوانینو ترچتر لاندی اړتیاو په نظرکې نیولو سره د تروروستانو لاس تکنالوژی، مخابراتو او منابعوته چې د تروریستی کړنو د ملاتړ او تحریک لپاره یې استعمالوی لند کړی،

د ځوانانو مثبت رول د سخت دریځی په راکمولو کي چې له امله ترهګري او شخړې زیاتوي، اجتماعي اقتصادي پرمختک ننګوي او سیمه ایز او نړیوال ته کوښ پیښوي.

په یاد لرل چې د ملګرو ملتونو سر منشي د داسې یو پلان په جوړولو کار کوي چې د سخت دریځی څخه دمخنوی لپاره، د ځوانانو برخه اخستنه، رهبری او ځواکمنول ټول پکې رانغاړل شوي وي او د ملګرو ملتونود تګلاری او ځوابونو هسته تشکیلوی.

په یاد لرل چې د ځوانانو لپاره د عمل نړیوال پروګرام ، رهنمایی قواعد د ځوانانو د سهم اخستنه د صلحی د رامنځ ته کولو په برخه کې، د ځوانانو، صلحی او امنیت په اړه د ۲۰۱۵ کال د اګست د میاشتی جرګه ، د ځوان، صلحی او امنیت په اړه د عمان بیانیه، دشدید تاوتریخوالی پرووړاندی د۲۰۱۵ کال سپټمبرپه میاشت کې د ځوانانو نړیوال ناسته، د شدید تاوتریخوالی د مخنوی او د صلحی د پرمختګ په اړه عملی اجندا، د خپلې وندی په اړه د یوداسی اساس رامنځ ته کولومنل کوم چې د ځوانانو ټول شموله برخه اخستنه او مثبته همکاری د صلحی د رامنځ ته کولو باعث ګرځی که هغه د شخړو په وخت کې وی اویا هم د شخړو دختمیدو څخه ورسته،

د سولې په رامنځ ته کولو او ساتلو کې د ځونانو د مشارکت په تړاو د ملی حکومت او منطقوي او نړیوالو سازمانانو د روانو فعالیتونو قدرداني کول.

غړی دولتونه هڅول چې د شخړو د مخنیوی، اوږد مهاله ثبات او پایداری صلحی رامنځ ته کولوپه برخه کې د ملګرو ملتونو تر عمومی تګلارې لاندې کار وکړي، او د اجتماعی، اقتصادی، سیاسی، فرهنګی او مذهبی، او عدم زغم فکتورنه چې د ترهګری اور زیاتوي، واضح کړي.

ددی درکول چې د شخړو پر مهال او هم له شخړو څخه وروسته، د ځوانانو ساتنه اود صلحی په پروسه کې ددوی ونډه اخستنه دنړیوالی صلحی او امنیت په ساتنه کې ډیره زیاته همکاری کولای شی ، او دې ته قانع کول چې د جنګی شخړو په وخت کې د ځوانانو په ګډون دملکی وګنو ساتنه دهری جامع تګلاری یوه مهمه برخه وی کومه چې شخړې هواروی او صلح منځ ته راوړی،

دنړیوالی جرمی محکمی په تړاو د روم د قرارد په پام کې نیول،

## ګډون (برخه اخستنه):

۱. په غړو دولتونو غږ کول ترڅو د تصمیم نیوني په برخه کې د ځوانانو ټولیز استازیتوب په محلي، ملي، منطقوي او بین المللي نهادونو په کچه زیات کړي، او داسی یو میکانیزم رامنځ ته کړي ترڅو د زور، زیاتي او افراطت په وړاندی مبارزه وکړي چې د تروریزم د کمولو لپاره ګټور وي. څومره چې مناسبه وي، یو ګډ میکانیزم د ځوانانو د ګټور ګډون لپاره د سولې د پروسې او د شخړو د حل لپاره په پام کې ونیسي.

۲. په ټولو اړونده برخو غږ کوي چې د ځوانانو مشارکت او نظریات د سولی د موافقي د عملي کولو لپاره له پامه ونه غورځول شي. د ځوانانو نظریات او ګډون له پامه غورځول به په ټولو ټولنو کې د یو باثباته سولې د رامنځ ته کولو لپاره ډیر مضر تمام شي، ځیني مشخصي برخې په دې ډول دي:

(الف) د ځوانانو ضرورتونه د بیرته راستنیدو او بیا میشت کیدو په جریان کې او همدارنګه د بیا رغوني، ادغام او د جګړې وروسته د بیا رغوني په برخه کې په پام کې ونیول شي.

(ب) د جګړې د حل لپاره باید د ځوانانو د نوښتونو او فعالیتونو ملاتړ وشي، او همدارنګه د سولې د تړون د میکانیزم په عملي کولو کې باید ځوانان دخیل شي.

(ج) د سولې په رامنځ ته کولو او جګړې د حل لپاره باید د ځوانانو ملاتړ وشي.

۳. د امنیت شورا د ماموریت پر اهمیت ټینګار کوي چې د ځوانانو اړوند اندیښنو ته د محلي او نړیوالو ځوانانو د شوراګانو سره د مشورې له طریقه پاملرنه وشي.

## ساتنه:

۴. د وسلوالو شخړو په ټولو اړخونو ټینګار کوي ترڅو په جدي ډول د هغو اړتیاوو سره سم چې د نړیوالو قوانینو له مخې پلي شوي د ځوانانو په شمول د ملکي وګړو د ساتنې او همدارنګه د هغه اړتیاوو کوم چې دوی ته د ۱۹۴۹م کال د جینوا د موافقې او د ۱۹۷۷ م کال پروتوکول په اساس د منلو وړ دي غاړه کیږدي.

۵. د دې برسیره، په ټولو دولتونو ټینګار کول چې د هغه اړتیاوو په اساس چې د مهاجرینو د حالت ۱۹۵۱م کال دتړون او د ۱۹۶۷ کال د پروتوکول په اساس دوی ته د منلو وړ دي غاړه کیږدي. همدارنګه د ۱۹۷۹م کال د ښځو په وړاندې هر ډول تاوتریخوالی تړون (۱۹۹۹م )کال چې د ناتوانه خلکو(معیوبینو) د حقوقو لپاره جوړ شوی دی ومنې.

۶. په ټولو دولتونو ټینګار کول چې دخپلو اړوندو مسئولیتونو سره سم موافقه وکړي چې معافیت (له جزا څخه خلاصون) پای ته ورسوي، او هم دځوانانو په شمول دهغه مسئولو خلکو په وړاندې قانوني پلټنې وکړي چې دملکي وګړو په نسل وژنې ، بشري ضد جنایتونو، جنګي او نورو ناوړه جرایمو مرتکیب وي. د یادونې وړ ده چې د معافیت په وړاندې مبارزه دنړیوالو اندیښنو تر ټولو جدي ستونزه ده، چې دنړیوالې جنایي محکمې لخوا دغه جرمونه تعقیب شي.

۷. دوسله والو شخړو په ټولو اړخونو ټینګار کول چې د جنسیت او د جنسیت په اساس د تاوتریخوالي څخه د ځوانانو په شمول دملکي وګړو د ساتنې لپاره اړین ګامونه پورته کړي.

۸. دا تائیدول چې د نړیوالو مربوطه قوانینو له مخې دځوانانو په شمول دټولو هغه اشخاصو بشري حقونو ته درناوی کول چې د دوی دواک په ساحه کې اوسیږي او هم دا تائیدول چې هر دولت د خپلو وګړو د نسل وژنې، جنګي جرایمو، قومي تصفیې او دانسانیت په وړاندې دجرمونو څخه د ساتنې مسو لیت لري.

۹. غړي دولتونه هڅول چې دنړیوالو قوانینو مطابق دجنګ په جریان کې او هم د جنګ نه وروسته دځوانانو په شمول د ملکي وګړو دساتنې لپاره مشخص او لازم تدابیر ونیسي.

## مخنیوی

۱۰. په ټولو دولتونو ټینګار کول چې دفعاله او پیژندل شوو ځوانانو لپاره داسې سهولتونه او زمینه برابره کړي چې کافي ملاتړ ولري، دتاوتریخوالي دمخنیوي فعالیتونه عملي کړي او ټولنیز یووالی رامنځته کړي.

۱۱. د ځوانانو لپاره د مهمو پالسیانو په جوړولو ټینګار کول چې د صلحې د رامنځته کولو لپاره له هڅو سره مرسته وکړي او په هغه کې ټولنیزه او اقتصادي پرمختیا، دسیمیزې اقتصادي ودې لپاره د پروژو طرحه کول، د ځوانانو لپاره د کاري فرصتونو او مسلکي زده کړو برابرول، ددوی تعلیمي وده، کاروباري مهارت او دغنده سیاسي ګډون شامل دی.

۱۲. په ټولو دولتونو ټینګار کول چې د صلحې لپاره دمناسبې او باکیفیتو زده کړو ملاتړ چې ځوانانو ته داسې توانمندي ورکړي چې وتوانیږي په ټولنیزو جوړښتونو او سیاسي پروسو کې رغنده ګډون وکړي.

۱۳. په ټولو دولتونو ټینګار کول چې داسې یو میکانیزم جوړ کړي چې دصلحې کلتور، صبر او زغم، د مختلفو کلتورونو او مذاهبو تر منځ مذاکراتو ته پرمختګ ورکړي او هم ځوانان دتاوتریخوالي، تروریزم، پردي پالنې، دتبعیض مختلف ډولونه او داسې نور اعمال ښه ونه ګڼي.

## مشارکت

۱۴. په ټولو دولتونو ټینګار کول چې دصلحې په هڅو کې د ځوانانو او نورو مربوطه ادارو، فندونو، پروګرامونو څخه چې دشخړو په جریان کې او وروسته له شخړو څخه چې کوم حالت رامنځته کیږي، سیاسي، مالي، تخنیکي او لوژیستیکي ملاتړ وکړي. لکه دملګرو ملتونو دصلحې درامنځته کولو دملاتړ اداره، ملګرو ملتونو دصلحې درامنځته کولو فنډ، ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام، ملګرو ملتونو دنفوسوفنډ، ملګرو ملتونو دښځو فنډ، دکډوالو لپاره دملګرو ملتونو دعالي کمیشنرۍ دفتر، دبشري حقونو لپاره دملګرو ملتونو عالي کمیشنري، دمخدره موادو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو دفتر او نور مربوطه غړي چې په سیمیزه او نړیواله سطحه فعالیت کوي.

۱۵. د صلحي د رامنځ ته کولو کمیسون لپاره په مهم اصولو ټینګار کول چې په کې هغه حالات او عوامل په نښه کیږي کوم چې د ځوانانو په منځ کې افراطیت او تاوتریخوالی خپروي چې له امله یې شاید تروریزم ته مخه کړي، نو ددې د مخنیوي لپاره باید ځوانان د شخړو په جریان او وروسته دشخړو څخه صلحي د رامنځ ته کولو په پروګرامونو کې شامل شي.

۱۶. غړي دولتونه هڅول چې د افراطیت، او د ټولو هغه مواردو په وړاندې چې ترهګرۍ او افراطیت ته زمینه برابروي، په خپلو پالیسو او ستراتیژو کې سیمه ایزې ټولنې، غیري دولتي فعالین، ځوانان، ښځې، مذهبي او کلتوري مخور او د مدني ټولنو اړوند غړي شامل کړي او په داسې میتودونو په ګډه کار وکړي، چې افراطیت ته وراوختونکو مخه ونیسي او ټولنیز وحدت او یوالی تامین کړي.

نجات ورکول او بیرته یوځای کول:

۱۷. هغوې چې د بې وسلې کولو، خلاصون، او له ټولنې سره د بیرته یوځای کولو په پلان او پالیسو کار کوي، باید د جګړې له امله د اغیزمن شویو ځوانانو او متحدینو اړتیاوې په پام کې ونیسي. ځینې مشخصې برخې په دې ډول دي:

a. د شواهدو په بنیاد او د جنسیتي حساسیت په اساس د ځوانانو لپاره کاري فرصتونه، د کار هر اړخیزه پالیسیانې، د خصوصي سکتور سره په ګډه د ځوانانو د استخدام ملي پلان، او د ځوانانو له پامه غورځولو په مخنیوي کې د زده کړو او کاروبار د رول اهمیت،

b. د کار تشي د ډکولو او د یو سولیز چاپیریال د برابرولو لپاره د ځوانانو په ظرفیت لوړوني او مهارتونو سرمایه ګذاري،

c. د ځوانانو د ګمارنې په موخه، د هغه سازمانونو ملاتړ چې ځوانان یې مشري کوي او سولې ته کار کوي

۱۸. د ملګرو ملتونو د ۴۱ مادې لاندې، چې د ځوانانو او وګړو د پرمختګ لپاره کوم اقدامات کیږي، د هغې ارزونه او احتمالي تاثیرات څیړل.

نور اقدامات:

۱۹. د جګړې پر مهال او له جګړې څخه وروسته د ځوانانو د اړتیاوو او ستونزو د موثرې همغږۍ په خاطر، د ملګرو ملتونو مربوط چارواکي، خاص استازي، د ملګرو ملتونو د منشي ځانګړي استازي په خاص ډول د ځوانانو لپاره د ملګرو ملتونو د منشي استازی، او د کډوالو ځوانانوو لپاره خاص استازی رابلل.

۲۰. د ملګرو ملتونو د سرمنشي څخه غوښتنه کول، چې په سوله او د شخړو په حل کې د ځوانانو په مثبت نقش یو څیړونکې پلاوی وګماري، په سیمه ایزه، ملي، منطقوي او نړیواله سطحه د ځواب ویلو لپاره وړاندیزونه ورکړي او پایلې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا او د غړو هیوادونو سره شریکې کړي.

۲۱. د ملګرو ملتونود سرمنشي څخه غوښتنه کول، چې په خپل راپور کې ددې حل لارې د تطبیق لپاره په اخیستل شویو ګامونو وغړیږي او هم په وسله واله جګړه کې د ځوانانو په وضعیت، او د هغوې په همکارۍ، ګډون، خوندیتوب، راګرځولو او ټولنې سره بیرته یوځای کولو په تړاو په اقداماتو خبرې وکړي.

۲۲. د مسلې د څیړولو حق خوندی دی.